ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.5 No.2 2021

# پښتو ټپه کښې د پښتو کلتوري توکي "حجرې" څرک

**Miss. Laila Gul**[1]

**Mr. Muhammad Abdar**[2]

**Abstract :**

**"Hujra" which is an important element of Pashtun culture. Which has been described from every angle in the popular and well-known genre of our public literature "TAPPA". And every aspect of this important element of Pashtun culture has been preserved in "TAPPA". Which is a valuable capital and asset of Pashto literature.**

**Keywords: Reflection of Pashto Culture's Element "HUJRA" In Pashto "TAPPA"**

**مونږ که په پښتو ادب د نثر او نظم دواړو په حوالې سره نظر واچوؤ نو معلومیږي چې په دې کښې تقریبًا په هر صنف طبع ازمائي شوي ده او په دغه حواله پښتو ژبه ښه مَړه او سربه ده۔ په دغه اصنافو که زیات تره اصناف د نورو ژبو نه پښتو ژبې او ادب ته راغلي دي نو بل خوا په دې کښې داسې اصناف هم دي چې د پښتو ژبې خپل سوچه اصناف دي۔ په دغه اصنافو کښې یو ټپه هم ده چې د پښتو اولسي شاعرۍ یو داسې صنف دے چې د پښتو شاعرۍ خپل جوړ کړے صنف دے او په نورو ژبو کښې لا تر دې دمه نشته۔**

**ټپه د پښتنو په بېلا بېلو سیمو کښې په جدا جدا نومونو بللې او پېژندے شي لکه لنډۍ، مصرعه یا ټکۍ وغیره۔ په دغه حواله اغلي ډاکټر فرزانه غني لیکي چې،**

> "ټپه د پښتون اولسي ادب او د شفاهي ادب د نظمیه حصې یوه په زړه پورې حصه ده دا یو ډېر زوړ او اهم صنف دے – تپې ته لنډئ ، مصره یا ټکۍ هم وئیلے شي۔ او د پښتنو په ټولو علاقو کښې ډېره مقبوله ده – محققین په یو خُلا دي چې د پښتو شعر ابتدا د ټپې نه شوې ده ټپه په مختلفو علاقو کښې په بېلو بېلو نومونو پېژندے شي۔ د پېښور خواؤ شا خلق لکه خلیل مومند خټک او یوسفزي ورته ټپه یا مصرعه وائي . په افغانستان کښې د قندهار او د سویل خلق ورته لنډۍ وائي – د باجوړ

---

[1] *M.Phil. Scholar Department of Pashto University of Malakand*
[2] *M.Phil. Scholar Department of Pashto University of Malakand*

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.5 No.2 2021

مهمند او افغانستان نمرخاته پلو خلق ورته یا کابل خواؤ شا پوري خلق ورته ټکی وائي" ـ (1)

**ټپه د یوې نیمې مصرعو نه جوړه وي- وړومبۍ مصرعه یې نهه او دویمه مصرعه یې دیارلس چپې یا سېلابه وي- د ټپې د دغه هیئت په اړه ډاکټر سلمٰي شاهین لیکي چې،**

"ټپے یو خاصیت او قدر مشترک چه په ټوله پښتونخوا د پخوا راسے حاوي دے او د ړومبۍ مصرعے نهه او د دو یمے مصرعے دیارلس سیلابه دي او هم دغه سیلابونه په بیلو بیلو اوزانونو و بیلو بیلو آهنګونو کښي په بیل بیل انداز پکارولے کیږي"(2)

**پښتو ټپه د پښتو اولسي شاعرۍ تر ټولو زوړ صنف ګڼلې کیږي- د دې د قدامت او تاریخ په حقله پروفېسر داور خان داود لیکي چې:**

"د ټپې د عمر او ابتدا په حقله تر اوسه څه نه دي وئیلي شوي خو دا ګمان کېدي شي چې د وید او اوستائي ژبو په وخت پښتو ژبه په خرپوسو وه که د پښتو ژبې د عمر په حقله دا ګمان درست وي – نو ټپې د زوړوالي اندازه ترې لګېدي شي . په دې لحاظ د پاکستان د یوې اولسي شاعرۍ عمر هم د ټپې نه زیات نه شي کېدي – ځکه چې د ژبې ماهرینو خیال دے چې د دنیا د هرې ژبې د ادب ابتدا د هغې ژبې د اولسي شاعرۍ نه شوې ده . په دې وجه پښتو محققین هم په دې نتیجه رسېدلي دي چې د پښتو د شعر ابتدا د ټپې نه شوې ده چې د پښتو د اولسي شاعرۍ یو ډېر کامیاب ، مقبول او منفرد صنف دے"(3)

**پښتو ټپه یو فصیح او بلیغ شعري صنف دے او په خپل وړوکي وجود کښې هر قسمه موضوعاتو له ځائے ورکوي- په دغه لړ مشتاق مجروح یوسفزے لیکي چې:**

"د ژبې او ادب پوهانو چې د فصاحت او بلاغت کوم تعریفونه کړي دي هغه ټول په ټپه کښې موجود دي. په ټپه کښې هر قسمه مضمون بیانیدے شي- د ژوند په هر اړخ ټپې وئیلے شوې دي او د دې مضامینو کثرت ټپې له مقبولیت ورکړے دے - د پښتو دا وړوکے صنف چې څومره وړوکے او مختصر دے دومره جامع او کوټلے دے او چې کچه

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.5 No.2 2021

تاثير لري هغه د پښتنو خبره چې که روپۍ وړه ده خو په ټول پوره ده"(4)

**پښتو ټپه که يو خوا د پښتو اولسي شاعرۍ يو مقبول، مشهور، زوړ او د پښتون قام تر ټولو خوښ صنف دے نو بل خوا دا د پښتون قام يوه داسې هنداره ده چې د دې قام ټول ژوند ژواک، تاريخ او کره وړه پکښې په نظر راځي۔ په پښتو ادب کښې د ټپې د اهميت او مقام په حقله محمد پروېش شاهين ليکي چې:**

"لکه څنګه چه نوک د وروئ نه نه شي بيليدے۔ هم دغسې ټپه د پښتو ادب نه نشي جدا کيد لے۔ او که په ژور نظر د ټپے جاج واغستے شي نو يقيناً چه ټپه په خپله پښتو ادب دے۔ ولے چه صرف ټپه مونږ د پښتنو هغه ورک او نا ياب تاريخ ته رسولے شي۔ چرته چه مونږ پخپله تاريخ او يا د نثر او نظم کتاب نه شي رسولے – زما خيال دے– چه صرف او صرف ټپه پښتو ادب اولنے پاټکے دے۔ او پښتو ادب د دے نه وده کړے ده او هم دغه وجه ده چه ټپه په پښتو ادب کښے ځان ته يو خاص او اهم، منفرد مقام لري۔ او کوم مقام چه د پښتو ژبے او ادب ټپه لري۔ د دنيا نورے ژبے د دے نه محرومه دي۔ که ټپے ته مونږ د پښتو ادب انسائيکلو پيډيا اووايو نو بے ځايه به نه وي"(5)

**په پښتو ټپه کښې د نورو بې شمېره موضوعاتو سره سره د پښتني کلتور موضوع هم رانغښتې شوي ده او د پښتني کلتور په هر توکي باندې يو شمېر ټپې وئيلې شوي دي۔ په توکو کښې يو توکے حجره هم دے۔**

**حجره چې د پښتون قام د ټولنيز ژوند يو مرکزي ځائے دے۔ دلته که يو خوا مېلمه عذر کولې شي او د هغوي مېلمستيا کولې شي نو بل خوا دا د غم ښادۍ، جرګو، مرکو او اهمو فېصلو دپاره پکارولې شي۔ دغه شان هم دلته کشران د مشرانو نه زده کړه کوي او په غېر محسوسې انداز کښې د يې عملي ژوند دپاره روزنه کيږي۔**

**د حجرې د وجه تسميه او تاريخي پس منظر په حقله نورالامين يوسفزي ليکي چې،**

"حجرہ پختونولي کاایک مضبوط اور کليدي ادارہ ہے جو صديوں سے اس طرز حيات کابنيادی حصہ ہے۔ حجرہ عربي زبان کا لفظ ہے جسکاایک مطلب وہ چھوٹاسا کمرہ یا Side Room بھی ہے جہاں عرب جاکر پیچیدہ مسائل کے بارے میں

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.5 No.2 2021

غور وخوض کیا کرتے تھے بعض محققین کا یہ بھی خیال ہے کہ حجرے کا تصور پختونولي میں زمانہ قدیم سے موجود تھا پہلے اسے اتل (OTAL) کہا کرتے تھے یعني بزرگوں اور بہادروں کے بیٹھنے کي جگہ اور جب پختونوں نے اسلام قبول کیا تو عربي میں موجود یہ لفظ اس ادارے کے لیے نام کے طور پر پسند کیا"۔(6)

ژباړه : حجره د پښتونولی یوه مضبوطه او اهمه اداره ده کومه چې د پېړو راهسې د دې طرز حیات بنیادي برخه ده۔ حجره د عربی ژبې تورے دے چې یو مطلب یې هغه وړوکي شان کوټه یا Side Room هم دے چرته چې به عربو د خپلو ګرانو کشالو په اړه غور و غوص کولو د ځینې څېړنکارو دا خیال هم دے چې د حجرې تصور په پښتونولی د پخوانی زمانې نه شتون لري۔ مخکښې دې ته اتل (OTAL) وئیلې کېدو یعنې د بزرګانو او د تورزنانو د ناستې ځائے او چې کله پښتنو اسلام قبول کړو نو په عربی کښې موجود دا تورے د دې ادارے دپاره د نامې په طور خوښ کړې شو۔

دا رنګ داور خان داود د اهمیت او ارزښت باره کښې لیکي چې:

> "حجره دپښتنو شریک میراث دے - دا د پښتنو د اجتماعي مجلس د روغے جوړے ، د راشه درشه، دخبرو اترو دغم ښادۍ، د صلاح مشورے او ناستے پاستے ځائے دے - چه د دوئ د مزاج او طبیعت عین مطابق دے او څوک چه د دوئ د مزاج او طبیعت نه واقف وي- هغه به دا په کلکه مني چه پښتون او حجره دوه نه بیلیدونکي څیزونه دي – پښتونولي ، پښتو او پنبتون، د حجرے ستنے دي- چوکاټ دے او دروازه ده – او هم په دے ګوټ پیر کښے پښتونولۍ وده کړے ده – پښتو سرته رسید لے ده او پښتون خړپوسے کړے دي" (7)

پښتانه حجره د بېلا بېلو اغراضو او مقصدونو دپاره پکاروي- چې په هغې کښې یو د مېلمه مېلمستیا هم ده۔ هر کله چې کله نارینه مېلمانه راشي نو هغوي ته په روڼ تندي هرکلې وکړې شي او د هغه د ناستې، ملاستې او هر قسمه خاطر تواضع هم په حجره کښې تر سره کیږي- په پښتو ټپه کښې د دې یادونه څه دا رنګ شوي ده،

"حجره خو ځائے د مېلمنو دے،

چې جانان ناست وي مېلمانه خوشحالوينه(8)

د پښتنو د حجرې دروازه د هر قسم مېلمه دپاره کهولاو وي- هغه که خپل وي، که پردے وي، اشنا وي او که یا ناشنا وي- خو په سر سترګو ورته په حجره کښې هرکلې وئیلې شي،

لکه دا ټپه:

"د حجرې ور ورته جارو کړئ،

نن مېلمانه د اتمانزو راغلي دینه"(9)

دغه رنګ حجره معشوقې د خپل معشوق یا محبوب دپاره هم په پښتو ټپه کښې یاده کړې ده او خپل قلبي واردات، احساسات او جذبات یې پکښې داسې رانغاړلي دي،

"چې مې جانان حجرې ته ورشي،

زلمي راپاسي ورته سر په سلام شینه-(10)

"بیا به حجرې ته خلقه نه ځم،

د سترګو غشو د بلو ویشتلے یمه(11)

"ستا د حجرې درشل کړه شه،

زما د زړه ستنې کړې درپسې دینه-(12)

"چې مې جانان حجرې ته راشي

زلمي ټول پاسي ورته وکړي سلامونه-"

حجره د ټول کلي د سره

په نیمو شپو کور ته زما لالے راځینه-

حجره خو ځائے د مېلمنو دے

خو عاشقان هم پکښې غم غلطوینه-

د حجرې ګوټ ته مه ودرېږه
د شين خالی زړه کښې به ويره پېدا شينه۔

د حجرې غلے شان راوځه
زه په کوځه کښې انتظار درته کومه
اور په حجره کښې لا بليږي
زما په زړه باندې وريږي ديدنونه
بيا به حجرې طرفته نه ځم
د بلو سترګو يار په زړه ويشتلې يمه(13)

او کله چې د محبوب نه زړه سوخت او خفه شي نو خپل دغه جذباتو له څه داسې د ټپې ژبه ورکړي او وائي:
"د حجرې ګوټ دربانديې پرېوځه
چې د چيلم شپېلی دې خوله کښې پاتې شينه۔
د حجرې بش دربانديې مات شه
چې په تکليف کښې درته زه درياده شمه۔
ته د حجرې په ګوټ کښې مړ شې
چې جنازه دې د حجرې نه پورته شينه
زما د يار ديدن ياديږي
هغه ظالم شپې په حجره کښې تېروينه(14)

"د حجرې ګوټ وربانديې پرېوځه
چې د چيلم پخه دې خله کښې پاتې شينه(15)

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.5 No.2 2021

د دې نه سربېره په حجره کښې به د ټنګ ټکور پروګرامونه هم کېدل- او د دې غرض دپاره به ستار، رباب او منګے په هره حجره کښې ارومرو موجود وو او وخت په وخت به پکښې محفلونه کېدل چې پکښې به ټپې، چاربېتې او بدلې وغېره په خوږ اواز وئېلې کېدل- پښتو ټپه کښې د حجرې دغه اړخ هم بیان شوے دے- لکه:

"بیا په حجره کښې محفل تود شو
په دوه لاسې منګے زما لالے وهینه
کټونه سم کړئ په حجره کښې
د زلمو ډله به مجلس درته کوینه
حجره د ټول کلي د سره
د نیمې شپې منګے زما لالے وهینه
حجره د ټول کلي د سره
د منګوټې د ټنګ اواز د یار راځینه
تا د حجرې محفل تمام کړو
زه د باندار جینکۍ اوس راټولومه(16)

دغه رنګ ننګ او غېرت د پښتنو په خټه کښې اخښلې شوے دے او بیا خصوصًا د دین او وطن د حفاظت دپاره خو دوي په خپل سر او مال هم سرفه نه کوي او دې دپاره هر وخت جهاد او غزا کښې بې د څه ویرې تراهې برخه اخلې او دا خپله اهمه فریضه ګڼې- په دغه مقصد هغوي په حجره کښې د ټوپک په ډز سره د غزا اعلان اوکړي او زلمې راټول شي- دغه عمل په پښتو ټپه کښې داسې بیان شوے دے

"پاس په حجره د ټوپک ډز شو
نامرده پورته شه چې ملا دې اوتړمه
د حجرې ډز د ټوپک راغے
جانان په طبع دے سبا جهاد له ځینه(17)

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.5 No.2 2021

حجره د ټولو پښتنو شریک ځائے دے او دلته د هر څه بندوبست کولې شي- تر دې پورې چې د چیلم او تماکو نشې هم دلته په حجره کښې کولې شي- د حجرې دغه اړخ پښتو ټپې کښې دا رنګ بیان شوے:

"حجره کښې ناست چیلم په لاس یم
لوګي سره کړم رنګارنګ د غم آهونه
ماله حجرې ته چیلم راوړه
کلي وال نشته په پټو کښې کار کوینه
د حجرې ګوټ دربانډې پرېوځه
چې د چیلم شپېلۍ دې خوله کښې پاتې شینه(18)

الغرض حجره د پښتني کلتور یو داسې مهم توکے دے چې پښتنو دپاره یواځې د مېلمه مېزمه د مېلمستیا ځائے نه دے بلکې دا دوي جماعت هم دے، د جرګو مرکو او د غم ښادۍ، ناستې پاستې ځائے هم دے څکه خو په پښتو ټپه کښې د بېلا بېلو زاویو او اړخونو نه یاده شوي او خوندي شوي ده- او څوک چې حجره نه لري نو پښتانه هغه د پښتو او پښتونولۍ د قطاره بهر ګڼي- لکه په دې ټپه کښې چې وائي،

"څوک چې حجره ساتلے نه شي
نو د پښتو دعوې دې نه کوي مئینه(19)

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.5 No.2 2021

## حوالہ جات: (References)


1. فرزانه غني، ډاکټر، ادبي اصناف(تحقیقي مقاله)، چاپ ځای: اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، چاپ کال: ۲۰۱۷ء، مخ: ۲٤٦-
2. سلمیٰ شاهین، ډاکټر، د پښتو ټپې معاشرتي او ثقافتي اثر، ناشر: ډائرېکټر پښتو اکېډمي، کال: ۸۸-۱۹۸۹ء، مخ: ۲۷-
3. داود، داور خان، پښتو ټپه، پښتو اکېډمي پېښور پوهنتون، کال: ۱۹۹۹ء، مخ: ۳٦-
4. یوسفزے، مشتاق مجروح، زرکانے، خورونکے: یونیورسټي بُک ایجنسي، مخ: ۱٥۹-
5. شاهین، محمد پرویش، د پښتنو ژوند ژواک، ناشر: شعيب سنز پبلشرز بکسېلرز اُدیانه بازار مینګوره (سوات)، کال: ۱۹۸۹ء، مخ: ۱٥۷-
6. یوسفزے، نورالامین، پختو پختون او پختونولي، ناشر: قام قلم صوابي، کال: ۲۰۱٥ء، مخونه: ۱۰۷ نه تر ۱۰۸ پورې-
7. داود، داور خان، پښتو ټپه، پښتو اکېډمي پېښور پوهنتون، کال: ۱۹۹۹ء، مخ: ۲٥-
8. طائر، محمد نواز، پروفېسر، ټپه او ژوند، خورونکي: حکومت خېبر پښتونخوا، کال: ۲۰۱۲ء، مخ: ٤٥۷-
9. هم دغه اثر، هم دغه مخ-
10. سلمیٰ شاهین، ډاکټر، روهي سندرې، ناشر: ډائرېکټر پښتو اکېډمي، کال: ۱۹۸٤ء، مخ: ۲۲٥-
11. هم دغه اثر، مخ: ۹۳-
12. داود، داور خان، پښتو ټپه، پښتو اکېډمي پېښور پوهنتون، کال: ۱۹۹۹ء، مخ: ٥۰-
13. طائر، محمد نواز، پروفېسر، ټپه او ژوند، خورونکي: حکومت خېبر پښتونخوا، کال: ۲۰۱۲ء، مخونه: ٤٥۷ نه تر ٤٥۸ پورې-
14. هم دغه اثر، هم دغه مخونه-
15. سلمیٰ شاهین، ډاکټر، روهي سندرې، ناشر: ډائرېکټر پښتو اکېډمي، کال: ۱۹۸٤ء، مخ: ۳۰۹-
16. طائر، محمد نواز، پروفېسر، ټپه او ژوند، خورونکي: حکومت خېبر پښتونخوا، کال: ۲۰۱۲ء، مخونه: ٤٥۷ نه تر ٤٥۸ پورې-
17. هم دغه اثر، هم دغه مخونه-
18. هم دغه اثر، هم دغه مخونه-
19. هم دغه اثر، مخ: ٤٥۷-